مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۶/۱۱/۱۷

محمدسمیع صادق

او

په پښتوهنري نثر کې د یونوي ژانر ایجاد

دریمه‌برخه



دا «کنفوسیوس» ته منسوبه خبره ده: **«په دوعا باندې اوبه لاندې او پاس نه ځي.»**

د بناغلي سمیع صادق دا وړوکي کیسه د همدې خبرې داسې شرحه ده چې زموږ ټولنه او خلک په داسې جال کې نښتي چې فکرکول او کارکولو ته ملا نه ټړي، حرکت نه کوي؛ ناست دي او لاسونه یې نیولي دي او هرڅه له بل ادرس نه غواړي. دوه جلا ادرسونه له یوې مرجع نه دوه متضادې هیلې کوي یو ادرس په دوعا کې وایي چې خدایه له دې ترهګر ګاونډي مو خلاص کړي، مقابل لوری بیا برعکس له هماغه ادرس نه غواړي چې هغوی موږ ترهګر بللي یو، خدایه افغانان نابودی کړي او د دواړو ادرسونو عامو خلکو یادو دوعاګانو ته آمینونه وویل او هیڅ هم ترلاسه نه شول.

دغه‌راز په «تابلو» نومې لنډیکیسه کې محمدسمیع صادق په انساني صداقت سره د نړیوال کلتور پر یوه منفي اړخ په هنري بڼه د انتقاد د توري داسې وار کړی دی، چې د انساني وجدان د ارامتیا سبب کېږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په «د رباب جنازه» نومي لنډيکيسه کي محمدسميع صادق د موسيقي او رباب وير ته هم ناست دی، سم وير ورسره کوي، د رباب جنازه يي پر اوږو ايښي ده وايي چې دا رباب مسلمان دی، بايد ونه‌سوځول شي.

محمدسميع صادق تل د خپلو داسي ليکنو (قصه په سلوټکو کي) سوژې د عيني ژوندانه د بېلابېلو اړخونو له منځه اتتخابوي. «وروستی سفر» يې د نيمروز ولايت د شګلنودښتو د خونړی پېښې ډېرتراژيک انځور دی. کېدای شي دا غمګړلي پېښه نور ليکوالان د داستانونو او ناولونو په چوکاټ کي انځور کړي؛ خو سميع صادق په هنرمندانه ډول د افغانستان د ځوانانو د اوښکو او وينو داستان د سلوټکو په قالب کي راخلاصه کړی دی. همدې ته وايي هنر.

دلته د سميع صادق د «لنډيکيسه» خو بيلګې وړاندې کوم:

مکتب

(کيسه په سلوټکو کي)

«په انګړ کي ئې باران په شړپ وو.

لږ لېړي د غره په لمن کي بيا شين آسمان سړې و زرغوني رنګين کړی وو.

انا ئې وېښتان ور چوټي کول.

پېغله نجلۍ د خپل خټين کور له کړکيه د بوډۍ د ټال په نندارە وه.

وېښتان ئې د انا له لاسونه وايستل، وې ويل:

- بي بي تا ويل څوک چې تر سړې و زرغوني تېر سي، هلک به نجلۍ سي او نجلۍ به هلک کېږي... چترۍ دې راکړه زه تر تېرېږم، نارينه به سم، بيا خو مي مکتب ته پرېږدي...

انا ئې په خندا سوه،

- درځه زويه دواړه ځو، مکتب خو ما هم نه دئ ويلی!»

خدای

قصه په سلو ټکو کي

د جګړې يتيم وو. مور ئې په کورونو کي مزدوري کوله. پخوا به چې کار ته تله، زوی به ئې ګاونډيانو ته په زاريو پرېښاوه، خو هغوی به تر پاللو واهه ډېر.

نوي کور کي ښه خلک اوسېدل، زوی ئې ورسره پرېښودی.

اختر رانژدې سو. هلک وپوښتل:

«مور! دا پلا خو نوي کالي او څپلۍ رانيسي؟»

مور ئې وويل:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«خداى دي ئې دركړي، زويه.»

هلک په غوسه سو:

«ته هر کال همدا وايې!»

د کور خاوند واورېدل.

د اختر په سهار ئې دروازه وټکوله. په لاس کې ئې نوي جامې او څپلۍ وې.

هلک ورته وکتل:

«کاکا! خداى ته يې؟»

ښرا

قصه په سلو ټکو کې

خپل جل دومره راباندې ګران وو چې غوښتل مې د مرغيو ژبه زده کړم، پوه سم په دې خوږو سندرو کې دى څه وايي.

رېز ئې دومره خوږ دئ، بيان بې څومره ښکلى وي.

مور ته مې چوغکه پرېښوده چې خپل يوازني زوى غوندې بې نازوي تر څو بيرته زه راځم. په ځنګله کې د بزرګ ښکاري شاګرد سوم.

ورځې، هفتې، مياشتې وروسته ستون سوم، د جل ژبه مې زده کړې وه.

د کور در ته نژدې سوم، د جل له سينې زما د خوښې آهنګ اورېدل کېدى، تم سوم، په قفس کې جل ځان ته د مرګ ښرا کوله.

درناوى

قصه په سلو ټکو کې

سهار په هديره کې تېرېدم. فضا ارامه وه او يو ډول درناوى پکښې احساسېدى.

ناڅاپه مې يو سپى وليد چې د يوه قبر پر شنخته ئې پښه پورته کړې وه. ور و مې ځغستل چې وې شړم، ما تل د مړو احترام کړى او باور لرم چې هغوى دلته آرام کوي. سپى خپل خاوند ته ور منډه سو.

ما لنده ډبره ولوستله، دا زمور د ښار د پخواني ښاروال قبر وو. يو کال مخکې، ده د ۱۵۰۰ کوڅه ډبو سپو د وژلو امر کړى وو. فکر يووړم، ربښتينى درناوى څه معنى لري او په پاى کې چا ته ور رسېږي.

که د محمدسميع صادق د «لنډيکيسه» د محتوى په باب څه ووايو هغه به دا وي چې په همدې لنډو څوجملو کې دى د يه بشپړ کتاب محتوى ځايوي، مثلاً: په يوه «لنډيکيسه» کې چې «پخلنځى لوړه» نومېږي د ښځو د حقونو مساله باندې تم کېږي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په یاده لنډیکیسه کې، د نارینهواکۍ په دایره کې د ښځې مظلومیت انځور شوی دی چې ټولو نارینهوو ته پخلی ښځه کوي او ترځنګه یې د کور د ډېرسلنه کارونه بار هم پر اوږو وړي، خو بیا هم د خپل لاس پخلی لا نهشي څکلی.

دا لاندې د یادې «لنډیکیسې» متن دی:

د پخلنځي لوړه

قصه په سلو ټکو کې

د هغې کره مېلمانه راغلل. دې له سهاره تر ماښامه پخلی وکړ، اوړه ئې واخښلې، ماشومان ئې وساتل، د خوابنې او خسر خدمت ئې وکړ. ستړیا ئې په چوپتیا کې پټه ونیول.

نارینه کښېناستل، تاوده خواړه، خنداوي او اوږدې خبرې. وروسته ئې د رزق د پیدا کولو د سختیو کیسې وکړې.

هغې په پخلنځي کې انتظار کاوه څو هغوی ولاړ سي، دا او لونې ئې له هغوی پاته خواړه وخوري. لوړه ـ لوړه وي، که د باندې له ستړو لاسونو څخه وي، که د پخلنځي له سوځېدلو لاسونو نه. خو پېړیو هم د خوړو پر سر لیکل سوي نوبتونه پاک نه کړل.

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ